# رب زما

ځېړنه: عبدالرحيم دراني

Download From; Aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download From; Aghalibrary.com

د کتاب ځانګړنې:
===========================
د کتاب نوم: رب زما
ښېړنه: عبدالرحیم دورانی
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ټوکه
د چاپ نېټه: ۱۳۸۲ل / ۱۴۲۹س / ۲۰۰۸ ز
د چاپ مالي ملاتړ: د دعوت عالي لیسه
خپرندوی: د اخلاص د فرهنګي او ټولنیزې پراختیا ټولنه
بیه: ۱۰ افغانۍ
د ټولنې د اساسنامې د ثبت شمېره: ۸۹۲- ۱۳۸۲/۸/۲۱
برېښنا لیک: ahi_iqbal@yahoo.com

***Download From; Aghalibrary.com***

*Download From; Aghalibrary.com*

کتابښود:

په دې خېړنه کې له لاندې سرچینو ګټه اخېستل شوې ده:

۱-اصول اعتقادي اسلام-رضا استادي

۲_د خوشال خان خټک کلیات_عبدالقیوم زاهد مشوانی

۳_د رحمان بابا کلیات_محکمه ثقافت صوبه سرحد

۴_انټرنیټ

## د اخلاص د فرهنګي او ټولنيزې پراختيا د ټولنې موخې:

۱— د باصلاحيه مقاماتو په اجازه د افغانستان په بيارغاونه کې د ټولنېزو ، فرهنګي ، ښوونيزو او روزنيزو فعاليتونو له لارې ونډه اخېستل.

۲— په ټولنه کې د سولې د ټينګښت او دوروری دفضاد پيدا کولو او دسيمه ييز ، قومي ، ژبني ، نژادی او ... تعصباتو له منځه وړلو لپاره زيار ايستل.

۳-- د يتيمانو او کونډو پالنه او هغوته د کسب او کار دلاروچاروبرابرول.

۴-- دوطنپالنې د مفاهيمو رواجول او خلکو ته خدمت کول.

۵-- د هېواد د ټولنېز پرمختګ لپاره د علمي او فرهنګي کادرونو د روزنې په چاروکې ونډه اخېستل.

۶-- په ټولنه کې د اسلامي فرهنګ او ملي اصيلو ارزښتونو خپرول.

۷-- په هېواد کې د ښځو د حقوقي وضعې د ښه توب او د هغوی د علمي سطحې دلوړولو لپاره زيار ايستل.

۸-- متعلمينو او محصلينو )که نارينه وي يا ښځمنې ( ته د سالم مصروفيت دلاروچارو پيدا کول.

۹-- د ديني او ملي ارزښتونو په چوکاټ کې د هنر او ادبياتو په ودې او پرمختيا کې ونډه اخېستل.

۱۰-- د هېواد فرهنګيا نو او پوهانو ته پر ټولنېز وستونزو د مناقشې او ورته د حل لارو د پيدا کولو لپاره د ليد نې کتنې او تفاهم د لاروچاروبرابرول.

*Download From; Aghalibrary.com*

# لړلیک


لومړی لوست ........ ۱
ددین پر اصولوبه ځان پوهوو........ ۱
په چاپسي لاړشو؟........ ۳
دویم لوست........ ٤
دریم لوست........ ۷
دکائناتونظم اوسمون دخدای تعالی پرشتون ښه شاهد دی........ ۷
څلورم لوست........ ۹
دانسان په فکري سیستم کي نظم........ ۹
دمیړي ژوند ........ ۱۰
پینځم لوست........ ۱۲
دخدای پاک صفتونه ........ ۱۲
خدای تعالی پوه ځواکمن اوژوندی دی........ ۱۲
خدای تعالی اورېدونکی اولیدونکی دی ........ ۱٤
شپږم لوست ........ ۱۵
خدای تعالی یودی اوشریک نهٔ لري........ ۱۵
اووم لوست ........ ۱۸
دخدای تعالی سلبي صفتونه........ ۱۸
........ ۲۲
اتم لوست........ ۲٦
نبوت ( پیغمبري)........ ۲٦
دپیغمبرانو دبعثت او رااستولوضرورت........ ۲۷
انسان ټولنیز موجود دی........ ۲۸
نهم لوست ........ ۳۰
پیغمبران معصوم دي........ ۳۰
لسم لوست ........ ۳٤
وروستی پیغمبر........ ۳٤
قرآن تلپاتي معجزه ........ ۳۸
یوولسم لوست ........ ٤۲
معاد (قیامت) ........ ٤۲
دولسم لوست........ ٤٦
دقیامت دثابتولو لپاره دویم دلیل........ ٤٦
معاداوبیاراپاڅېدل جسمانی دي........ ٤۷

# د لوراند او لورین ښښتن په نامه

# لومړی لوست

## ددین پر اصولوبه ځان پوهوو

ددین اصول یوشمېرعقیدې دي، چې ددین ستنې اوبنیادونه ګڼل کېږي او دادي:
)) توحید (( )) نبوت (( او ))معاد ((.
دېته په پام سره ، چې په هره زمانه کې انسانانوډول ډول عقیدې لرلې اواوس هم بېلابېلې عقیدې موجودې دي اوهره ډله اودین انسان یولړ خاصوعقیدوته رابولي؛نوځکه دمسلمان لپاره ضروري ده ،چې ددین ددښمنانو اوغرضي کسانو د زهرجنو تبلېغاتوله امله له خپلو عقیدو وانه وړي او هرچاته پکاردي، چې په دلیل اوبرهان سره دخپلې عقیدې له اصولو خبرشي اوددې معنادانه ده ،چې ګوندې کلونه کلونه دې دیني علم زده کړي اوفلسفي او استدلالي کتابونه دې ولولي ؛بلکې تردې حده بس دی ، چې دخپلوعقیدو اصول په ساده اوتېنګودلیلونو وپېژني ،لکه یوه مشهوره قصه ده ، چې یوه ورځ یوې بوډۍ ښځې په څرخې تاراوبده په دې حال کې چاورنه پوښتنه وکړه، چې:)) دخدا ی تعالی د وجودثابتولولپاره څه دلیل لرې ؟((
بوډۍ سملاسي له څرخې لاس اوچت کړاوچې څرخه ودرېده ؛نووئې ویل کله ،چې دومره وړه څرخه بې چلوونکې څرخېږي؛نوڅنګه ویلای شو دا دومره پراخه نړۍ اودومره سترې منظومې بې له کوم چلوونکې وچلېږي اوبې له کوم څرخوونکې او تنظېموونکې پخپله وڅرخېږي؟
خوشال بابا دپوهې اوعبادت په تړاو وایي:

عبادت بې معرفته
واړه هیڅ دی پر غفلته
اول پوه په معرفت شه
بیا خبر په عبادت شه
ځان ساته له معصیته
موافق شه له طاعته
که خبر په معرفت شي
لټ په امر په طاعت شي
په ایمان کې دې خلل وي
شناخت طاعت سره اول وي
کافران په خدای خبر دي
چې طاعت نه کا کافر دي
حقیقي مؤمن هاله یې
ګنه زده کړه مؤمن نه یې
که دې شناخت هم د طاعت شته
هم دې ترس د معصیت شته
کبیره د ایمان زیان دی
هر طاعت لره نقصان دی
زده کړه ښه له مابې درنګه
ګناهونه دي دوه رنګه
هر چې کم دي صغیره دي
هر چې لوی دي کبیره دي
که سړی کبیره نه کا
صغیره به یې خدای ښه کا

## په چاپسې لاړشو؟

مسلمان، چې د خپلې عقيدې اصول په ټينګو دلايلو زده کړل؛ نو د دين په نورو برخو لکه لمانځه، روژې، حج، معاملو او داسې نورو شيزونو کې بايد له جامع الشرائط مجتهد او عالم نه تقليد او لاروي وکړي، چې د اجتهاد ټول شرطونه ولري او د فقهې او استنباط) د دلايلو له مخې د الهي حکمونو را ويستل ( په څانګې کې متخصص، ماهر او کارپوه وي د تقليد مطلب ماهر او متخصص ته مراجعه ده؛ يعنی لکه څنګه چې انسان د ژوند په هرې چارې کې ناروغ شي يا کورجوړوي؛ نو ډاکټريا انجينرته ورځي همداراز د دين په فروعاتو او الهي احکامو کې که انسان پخپله ماهر او پوه نه وي؛ يعنې پخپله مجتهد نه وی پکارده، چې جامع الشرائط مجتهد او عالم ته مراجعه وکړي او دهغه تشخيص او رايه د خپل ژوند عملي برنامه وګرځوي.

# دويم لوست

دخداى تعالى پرشتون عقيده دانسان په فطرت کې نغښتې ده
دانسان چې دوړوکوالي پړاوتېرشي او په ښه بده پوه شي ؛نو که له ځانه
پوښتنه وکړي ؛نوپه دې پوهېږي ،چې رښتياويل ،انصاف،له انسانانوسره
مينه ،اوورته خدمت کول اوداسې نورښه صفتونه ئې خوښ دي؛يعنې ددغه
ډول صفتونوپه ښه والي پوهېږي اوپرهغو دپوهېدلولپاره
کتابونولوستلوته هېڅ اړتيا نه لري اوکه څوک ورنه پوښتنه وکړي،چې))
په کوم دليل پوه شوې ،چې رښتياويل ښه کاردى (( په ځواب کې وائي چې
: دامې په دليل اوبرهان نه دي زده کړي ؛بلکې دښه والي احساس يې زماپه
فطرت،اوطبيعت کې نغښتى اوزماپه خټه کې اخښل شوى دى !((.
دخداى تعالى پر شتون عقيده ) هغه خداى ،چې دنړۍ پنځګراو
دټولومخلوقات پيداکوونکى دى ( دانسان دهمدغوفطري چاروپه
کتارکې ده اوانسان ددغې عقيدې دپيداکولولپاره داستاد زده کړې
اودکتابونو يا درسونو لوستلوته اړتيانه لري ؛بلکې له خپل
ضميراووجدانه که پوښتنه وکړي ؛نو پوهېږي ،چې داټول کاينات يو پوه
اوځواکمن پيداکوونکى لري.
نوځکه دانسان تاريخ چې لولو ؛نوګورو ،چې پرخداى تعالى عقيده په
تېرو وختونوکښې ان هغه وخت هم وه ،چې انسان نيم وحشي
واودځناوروپه څېرېې ژوند کاوه اوله پوهې، علم اوفرهنګ سره ئې
سروکارنه درلود البته کله کله دخداى تعالى په
معلومولواوتشخيصولوکښې تېروته ؛دمثال په توګه لمر، ستوري ،بوتان

یا دځمکې نور ځیزونه به ئې خدای اودنړۍ پنځوونکي او خالق ګڼل ؛خوپه هرحال پر خدای تعالی اوپنځګر عقیده موجوده وه.

اوس چې پرخدای تعالی دعقیدې په فطر یتوب پوه شول؛نو دڅوټکیو یادونه اړینه بولم.

کله کله انسان دځینو خاصو لاملونو له امله له فطري ځیزونو غافلېږي ؛یعنې لکه څنګه چې که یوه پېړ ټوکرپه یوبرقي چراغ واچول شي؛نود چراغ رڼا خورېدو ته نه پرېږدي همداراز کله کله انسان دعلمي غرور ،بې ځایه ویاړونو اوپه شهوتونو اوهوسونو کې ډوبېدو په وجه دخدای پېژندنې له فطرته غافلېږي اوپر فطرت یې لویه پرده غوړېږي او انسان له خدایه داسې ناخبره اوغافلېږي چې ته به وائې ګوندې دخدای پېژندنې عقیده یې بیخي په فطرت او خټه کې نشته ؛خو کله چې داپردې لرې شي ؛نوانسان پخپله خدای ته متوجه کېږي او پام ئې وراوړي.

هغه انسانان ،چې دګناه، شهوتونو اوهوسونو له امله دخدای پېژندنې له اصلي فطرته غافلېږي په الوتکې ، بېړۍ، ګاډي اویا نورو داسې ځیزونو کې له خطرې سره دمخامخېدو په وخت کې ،چې ورته دااحساس پیداشي ،چې دتېښتې اوبچ کېدو لار نه لري اوظاهري وسایل ئې نه شي ژغورلا ی ؛نو د زړۀ له تله اوپه پوره توجه خدای ته متوجه کېږي.اوله خدایه مرسته غواړي ؛یعنې په دغه وخت دخدای پېژندنې ، خدای منلې اوخدای غوښتنې فطرت سم راڅرګندېږي.

چا له یوعالمه وغوښتل ،چې پلانې ته دخدای پاک لار وښیه ) یعنې دخدای دوجود دثابتولو دلیل ورته بیان کړه (.

عالم په ځواب کې وویل: ته کله په بیړۍ کې سپور شوی یې ؟

هو !

آیا داسې شوي ،چې ستا سوبېړۍ ماته شوې وي اوبله بیړۍ هم نه وي اوتاته لامبو هم نه درځي ،چې ځان له ډوبېدو بچ کړې ) یعنې دبچولو ظاهري وسیله نه لرې. (

هو !

نو هغه وخت ،چې له هرې خوا نهيلي شوی وې ؛نوايا په خپل زړۀ کې داسې چاته نه وې متوجه چې تاله خطره بچ کړي ؟

هو ،ولې نه په زړۀ کې مې داسې احساس درلود ،چې داسې يو قدرت شته ،چې ما بچوی اودمرګ له خطره مې ساتلی شي !

عالم ورته وويل: ))هماغه قدرت ،چې ته ورته متوجې وې اوپه زړۀ کې دې احساس شو ؛نو هماغه خدای دی ((

يعنې هماغه څوک ،چې انسان ورته داړتيا ،بې وسۍ اولاچارۍ پروخت متوجه کېږي اوپام ئې وراوړي اوهماغه قدرت ،چې دتکبراو غرور دپردو له لرې کېدو او دځامنی، په خلکو دباور اوپه ظاهري وسايلو دتکيي اوباور له پرېښو دلووروسته انسان ور ته مخه کوي هماغه دنړۍ خالق، داړتيا وولرې کوونکی اودښکېلو اوکړېدلوانسانانوژغورونکی خدای دی .

# دریيم لوست

## دکائناتونظم اوسمون دخدای تعالی پرشتون ښه شاهد دی

که تاسو یوګاډي ، دګنډلو ماشین ، ګړۍ ، الوتکې یا نورو څیزونو ته په غوروګورئ ؛نووبه وینئ ،چې په هریو کې یوخاص نظم دی اوپه ځانګړي پروګرام سره چلیږي ، آیا داکیدای شي ،چې دامنظم اوسم ماشینونه پخپله اوبې له جوړونکې جوړشوي وي ؟ !

که تاسوته دااحتمال له عقله لرې ښکاري، چې دالوتکې ،ماشین ،چې حیرانوونکی نظم لري پخپله جوړشوی ؛نو دادومره پراخ اوهک پکوونکی نظام ،چې پر ټوله نړۍ اوکا ئناتوواکمن دی اوهره برخه یې دالوتکې دماشین ترنظامه ډېره دقیقه ده له کومه پیدا اوچاجوړکړی دی ؟

داحیرانوونکی نظم اوپه دې نړۍ کې پټ رازونه ،چې ددنیاټول پوهان یې حیران کړي له کومه پیدا شول اوچاخلق کړي دي.

که لږځیرشواوغوروکړو ؛نودانسان عقل داوائي ،چې یوپوه، ځواکمن اوحکیم پالونکې شته ،چې دادومره منظمه دنیااوټول رازوال مخلوقات یې پنځولي دي.

ددې لپاره ،چې په نړۍ اوکائناتوکې په نظم خبرشئ همدومره بس دی ،چې دانسان دبدن یو غړي لکه)) سترګې ( ( ته ښه پام وکړئ:د اوړوکی شان ماشین )سترګه( دومره دقیق اومرموزدی ،چې لاتراوسه دسترګوکارپوهان یې دټولورازونوپرپوهیدو نه دي برلاسي شوي .

آیا کوم عاقل داویلای شي دا سترګه ،چې دومره دقیق اوحیرانوونکی سیستم لري پخپله به جوړه شوي وي ؟ !

آیا دانسان دبدن دهاضمې سیستم لکه معده او داسې نور غړي، چې هریوې ځانته قانون او اصول لري په دې ګواه نه دي، چې دا یوپوه، ځواکمن او حکیم جوړونکی لري او دا ټول یې په یو خاص سیستم او انتظام سره جوړکړي دي ؟.

اوس به دغنمو یوې دانې ته راشو، چې له ځمکې راټوکېږي او بیا ترې یو وړین بوټی جوړېږي او په هر وږي کې څو څو دانې وي کله، چې دا دانه پر ځمکې شینډل کېږي بیا دځمکې سینه څیروي او له خاورو سرراباسي، چې بوټی ترې جوړ شي. دلته کوم داسې انتظام په کارلګیادی، چې دغنمو دانه خپل بهیر او چکرپوره کوي؟ په حقیقت کې وریځې، بادونه، سپوږمۍ، لمر، دکال فصلونه ورځ او شپه او.....دا ټول دیوه مهربان پالونکي په شان دغنم دانه په یو خاص ډول سره پالي تردې، چې دغنمو بوټی او وږی ورځنې جوړ شي او بیا ترې ګټه واخلو.

آیا دغنمو همدا بوټي یا نورې ونې دخدای تعالی پرشتون، دهغه په حکمت او قدرت دپوهېدو لپاره بس نه دي ؟

آیا ویلي شو، چې دا نظم او ضبط پخپله پیدا شوی دی ؟

ایا دانسان عقل داویلی شي، چې دا ستوري، لمر، سپوږمۍ، څلورفصلونه، ورځې، شپې او .......پخپله پیدا شوي او کوم پنځګر او پیدکوونکی نه لري ؟

له یو استاده شاګرد پوښتنه وکړه موږ چې دنړۍ او کائناتو نظم تشریح کوو؛ نوځینې مادي انسانان، چې دخدای تعالی پرشتون شک لري یا یې نه مني وائي، چې دا هرڅه خو طبیعت او فطرت پیدا کړي دي !

استاد ورته وویل: که له فطرته دهغوی مطلب هغه څیزوي، چې پوهه) علم ( قدرت او اراده لري؛ نو همدا خدای دی او هغوی ئې په نوم کې تېروتي دي) یعنې خدای تعالی ته ئې دطبیعت او فطرت نوم ورکړی دی ( او که له فطرته دهغوی مطلب داسې څېزوي، چې علم، قدرت او تدبیرنه لري ؛نو داممکن نه ده، چې دومره منظم جهان دوړوند، کوڼ او بې شعوره فطرت په لاس جوړشوی وي !

لنډدا، چې عقل او پوهه دا حکم کوي، چې دانړۍ او کائنات یو پوه، حکیم او ځواکمن خالق جوړکړی، چې هماغه خدای دی، او دانه شي کېدای، چې بې شعوره او ناپوهه فطرت داسې دقیق نظام جوړکړي.

# څلورم لوست

## دانسان په فکري سیستم کې نظم

په دې لوست کې بیاد انسان دپیدا ښت څېړلو ته ورګرځو؛ ځکه، چې وائي ))دیارخبره ترهرڅه خوږه وي ((. انسان پخپله یوه لویه دنیاده، چې هرغړی یې دخالق اوپالونکې د قدرت اوپوهې ګواهي ورکوي اوڅومره، چې دانسان علم زیاتېږي اودطبیعت له رازونوزیاته پرده لرې کېږي؛نو دحکیم اوځواکمن خدای شتون ورته ښه څرګندېږي.

مورګورو، چې دهرانسان په جوړښت کې دغیبودنړۍ یوچراغ بل دی، چې انسان دنېکۍ، خیراوښېګڼې لورته وربیایي، چې داځلانده څراغ هماغه ))فکر(( دی.

په دنیاکې، چې څومره برسېرونې اواختراګانې شوي، ټولې دهمدغه فکراوعقل له امله دي.

ټول کتابونه اوکتابتونونه اوټولې علمي څانګې دهمدغه ځواک)) فکر(( له برکته پیداشوي اوهمدافکراوسوچ دی، چې دشک په وخت کې انسان نېکمرغۍ ته رابولي ؛نوانسان ته چاداګټور ځواک ورکړی دی ؟

آیاانګېرلای شو، چې له لوی خدای اوځواکمن پالونکي پرته بل چادومره لویه پانګه انسان ته ورکړې ده ؟ دانسان په بدن کې یوډېروړوکی، دقیق اونازک ماشین اېښودل شوی، چې ډېرکم وزن اونازک اونرم موادلري، دغه ماشین ته ماغزه یاداعصابومرکزوائي اویوه حېرانوونکې چاره یې داده، چې پخپله اواټوماتیک کارکوي. دانسان په لاس جوړشوي دحساب ماشینونه دانسان په حکم چلېږي اوڅه ،چې ترې انسان غواړي هغه کوي؛خوداټوماټیک ماشین) ماغزه (

ددغو ماشینونو پرعکس ا و اپوتهٔ دي ؛یعنې نه یوائې حکم ته ضرورت نه لري ؛بلکې دانسان بدن ته امرکوي اوور ته لار ښیي.

دانسان بدن پخپله پرانرژۍ باندې دمادې دبدلولو یو ماشین دی او له هغو ماشینونو ډېرتو پیرلري، چې انسانانو پرانرژۍ دمادې داړولو لپاره جوړکړي ؛ځکه داټول ماشینونه یوائې خاص مواد پر انرژۍ بدلوي؛خودانسان بدن ډېرخام اوکچه مواد جذبوي او په ډول ، ډول انرژۍ ئې بدلوي. دانسان په بدن کې کیمیاوي لابراتوارونه اود درملو جوړولو اټوماتیک کارخانې دي د ))غدویا غوټو (( په شکل جوړې شوې دي ،چې هر یو یې دخاصو موادو دجوړولو مسوولیت لري اودغه موادد انسان دژوند په بېلا بېلو چاروکې خاصې دندې لري آیادادقیق اوبشپړ ماشینونه په دې ګواه نه دي ،چې انسان یوځواکمن، پوه اوحکیم پیداکوونکی خدای لري؟ !

## دمېږي ژوند

له انسانه به تېرشواو د))مېږي (( ژوندته به ځغلنده نظروکړ،چې یوه وړه حشره ده اومورته د توحید اوخدای پېژندنې درس راکوي. ددې وړوکې ژوې ژوند ،په ګډژوند ، ګډکوښښ او له یوبل سره په ملګرتیا ولاړدی اودیوبل په مرسته خپل کارونه کوي داګډه ملګرتیا دمېږتون په جوړولو اودد انواوخوړودراغونډولو په وخت لیدلای شئ.

داحشره پرته له دې نه، چې پوهنتون ته تللی وي اوبې له دې نه، چې دکرهنې پوهنځې یې ویلی وي په خدای ورکړې پوهې ،فطري غریزې او احساس سره په دې پوهېږي، چې که غواړي یوه دانه په سوري کې خوسااوخرابه نه شي؛نوپکارده ،چې نیمه یې کړي.

مېږی که محسوس کړي ،چې دانه لمده شوې ؛نوسمدستي یې له سورې راوباسي اولمرته یې ږدي ،چې وچه شي او اصولاً دوی خپلې سورې او مېږتون په لوړ اووچ ځای کې جوړوي ،چې اوبه ورته ونه رسېږي.

نوآیا ویلې شو ،چې داحیرانوونکې کارونه له لارښوونکې پرته کېدای شي ؟ !

ددې وړې حشرې استاد او لاربښوونکی څوک دی ؟ اوله کومه یې دادومره سترې خبرې )چې انسان پرې دزده کړې له لارې پوهېدای شي ( زده کړې اود ژوند بنیادئې پرې ولاړ دی ؟

ستاسې پام یوې په زړهٔ پورې مناظرې ته رااړوو:

یو ماده لمانځي یوعالم ته وویل: ))دخدای تعالی وجودراته ثابت کړه (( ددې پوښتنې په وخت کې یوماشوم هم ناست و، چې له هګۍ سره یې لوبې کولې عالم له ماشومه هګۍ راواخېسته اوماده لمانځي ته یې وویل: داهګۍ وینې ،چې یوه سخته ،کلکه اوبنده کلاترې راتاوه ده، په دې کلاکې دننه اوددېوالونوترشا یې ډېرنری پوستکی دی اوپه هغه کې دننه لړشان ویلي شوي ، سره اوسپین زردي ) دهګۍ سپین اوژېړ ( ؛خودوی له یوبل سره نه ګډېږي.[ ؛نوآیا ویلي شو،چې داژېړاوسپین ،چې له یوبله بېل دي او پخپله پیدا شوي دي] ؟

ای پوښتونکیه ! هېڅوک ددې هګیو له دننه خبرنه دي،کوم چرګوړي ،چې ترې راوځي نربه وي اوکه ښځه اوچې راووځي؛نو زړهٔ راښکوونکی اورنګارنګ وي ) کوم یوځواک داچرګوړی داسې رنګ اوانځورکړی دی ( .

آیا دیوچرګوړي یایوطاووس رنګول اوانځورول دیوې تختې یاتصویرله رنګو لونه کم دی ؟

آیا موږویلی شو،چې یوجوړ شوی تصویر،جوړوونکی اوانځورګرلري؛ خودافطري انځورګري پخپله شوې ده ؟

عالم زیاته کړه: آیا نه منې ،چې داهګئ اوهغه چرګوړی ،چې ترې پیدا کېږي اودومره خصوصیات لري دایوحکیم ،پوه اومدبرپالونکی اوپنځګرلري؟

پوښتونکي لږسوچ وکړاولکه ،چې له خوبه راپاڅېدلی وي سمدستي یې وویل: ))هوګواهي ورکوم ،چې دانړۍ یوپیداکوونکی اوپنځګرلري،چې نوم یې الله دی اوټول کمالي صفتونه لري اوګواهي ورکوم ،چې محمدصلی الله علیه وآله وسلم دخدای بنده اواستازی دی. ((

هـــودنړۍ لـــه موجوداتـــو هرژونـــدی مثـــال ،هراتـــوم ،هـــره زره اودژوندیوځاروبوهرسلول دحقیقي پالونکې اوخالق پرشتون رښتیني ګواه دي

# پینځم لوست

## دخدای پاک صفتونه

هر صفت ،چې انسان ته سترتوب اوبزرګي ورکړي او اړتیا اونیمګرتیا یې لرې کړي هغه ته کمالي صفت وایي لکه دپوهې اوهوښیارۍ صفت ، چې له یووګړي ناپوهي لرې کوي همدرازکه څوک وس اوقدرت نه لري ؛نونیمګړی اوناقص دی اوقدرت صفت دهغه دانیمګړتیا لرې کوي ددې جهان پالونکی اوخدای ،دکمال ټول صفتونه لري اوله هرډول عیب اونیمګړتیا پاک دی دا ،چې خدای دنړۍ ټولې اړتیاوې پوره کوي اونوروته کمالونه اونعمتونه ورکوي؛نو پکارده ،چې پخپله هم دغه کمالي صفتونه ولري؛ځکه چې داخونه شي کېدای ،چې څوک پخپله کمالي صفتونه ونه لري او نوروته یې ورکړي مثلاًڅوک ،چې پوهه ونه لري بل ته څه نه شي ورښوولی.

که خوښه مووي دابحث به لږ نورهم ا وږد کړم.

## خدای تعالی پوه ځواکمن اوژوندی دی.

په کائناتوکې له مطالعې دخدای تعالی پر صفتونوپوهېدای شو ؛ځکه چې داپراخه نړۍ ،چې سرترپایه په کې نظم اوانضباط کارول شوی اوهریومخلوق په اندازې اوله ځانګړتیاوو سره پیدا شوی په دې خبره لوی دلیل دی ،چې ددې پیداکوونکی ،علم،پوهه ،وس اوقدرت لري په کائناتوکې داحیرانوونکی نظم په

دي ګـــواه دی ،چـــې ددې پيـــدا کوونکی دهرموجـــود پـــه رازونو اودهغود پـــاتې کېدو اوفناکېـدوپر عواملو اودهرژونـدي دژونـد او مرګ پـه سـببونو خبردی اوپـه هرا ړخيزاو بشپړعلم اوتدبير ئې هرڅيزپيدا کړی دی.

اوس،چې دخدای تعالی دعلم اوقدرت په صفتونو پوه شو ؛نو په يو بل صفت ئې ،چې ژوند يتوب )حيات ( دی هم پوهېدای شو ؛ځکه چې دپوهې اوعلم لپاره ژوندضروري دی اوڅوک ،چې علم اووس لري؛نوژوندی به هم وي ،خدای تعـالی پـه قرآن شريف کې ځان په ټولو کمالي صفتونولکه علم ، قـدرت اوژوند)حی ( ستـايلی اوځان يې له هرډول نيمګړتياپاک ګڼلی دی.

أَنّ اللّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ؛يعنې خدای تعالی په هرڅه پوه او خبردی.)بقره ۲۳۱آيت ( .

هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدّينَ الْحَمْدُ لِلّهِ رَبّ الْعَـالَمِينَ ؛يعنې هغه ژوندی دی اوله هغه پرته بل خدای نشته.)غافر۶۵آيت (

إِنّ اللّهَ عَلَى كُلّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

؛يعنې بېشکه خدای په هرڅه قادردی )بقره ۱۴۸آيت (.

البته لکه ،چې وويـل شـول کائنـات پـه خپلوزياتورازونوسره دخدای تعـالی پوهـه ،علـم ، قـدرت اوژونـد يتـوب ښـه ثابتوي؛خودهغـه دپـوهې ، علـم ، قـدرت اونـورو صـفتونوځرنګوالی موږتـه سـم معلـوم نـه دی؛ځکـه چـې زمونږعقـل اوفکرلنډاومحدوددی اودخدای تعالی دذات اوصفتونوحقيقت ته ) چې لـه هرا ړخـه نا محدوددی ( نه شي رسېدلای.

هـو !دهرانسـان فکرکـه څومره ډېروړاوقابـل هـم وي دخـدای تعـالی دحقيقت لـوړې څـوکې تـه نـه شی رسيدلی او موږنـه شـوکولی اومسـووليت هـم نـه لرو ،چې دخدای تعـالی دذات ياصفتونو پـر حقيقت پـوه شـو ؛يو اځېنی څيزچې مـوږئې وس لرواو له موږه غوښتل شوي دادي،چې په کائناتواودالهي عظمت په نښونښـانوکې پــه دقيقــې مطــالعې اوڅېړنــې ســره دخـدای تعـالی پـر وجـود اوصـفتونو عقيـده پيدا کړو ؛خودخـدای تعـالی دذات اوصـفتونو حقيقـت هېڅکلـه مـو ږتـه نـه شـي معلومېدای اونه به معلوم شي اوداسې توقع اوهيله لرل هم نه دي پکار ؛ځکه چې ددیـن مخکښـان اولارښـوونکي وائـي: )) هرڅيز،چـې مـوږيې پـه خپـل ذهـن کـې

تصور کړو هغه خدای نه دی ؛بلکې زموږ د ذهن پیدا شوی شیزدی او هم موږ ته راګرځي )(.

## خدای تعالی اوریدونکی او لیدونکی دی

خدای تعالی ځانته سمیع او بصیرویلی، د سمیع او بصیر معناده؛اوریدونکی او کتونکی.

د خدای تعالی د کتنې او اوریدنې مطلب دادی، چې هغه په ټولو اوریدنو او لیدلو خبردی لکه څنګه ،چې د دنیا په ټولو موجوداتو خبردی او ټول د هغه په وړاندې حاضردي.

البته د انسانانو او حیوانانو د لیدلو او اوریدلو وسیله سترګې او غوږونه دي؛خو دا چې الله تعالی اوریدونکی او کتونکی دی مطلب دا نه دی، چې هغه سترګې او غوږونه لري ؛بلکې مطلب دادی ،چې خدای تعالی په ټولو لیدنو او اوریدونو خبردی او ټول د هغه په وړاندې حاضردي او هیڅ شیز ترې پټ نه دی او څرګنده ده ،چې په اوریدنو یا لیدنو د هغه خبرتیا او پوهه سترګو او غوږو ته اړه نه لري ،یودیني عالم وائي:

) دا چې خدای تعالی لیدونکی او کتونکی دی ؛نو مطلب دا نه دی ،چې هغه زموږ په شان غوږونه او سترګې لرې ( )؛بلکې هغه ئې بې له غوږو اوري او بې له سترګو ګوري )(.

او س کېدای شي څوک دا پوښتنه وکړي ،چې په کوم دلیل خدای تعالی کتونکی او اوریدونکی دی ؟

د دې پوښتنې ځواب د براسان دی کله ،چې موږ پوه شو ،چې خدای تعالی بې پایه علم لري او له هرڅه خبردی ؛نو د دې ټولې پوهې او علم لازمه داده ،چې هغه له ټولو اوریدنو او لیدنو هم خبردی.

دې ته په پام سره د دغو دواړو صفتونو) سمیع او بصیر ( د ثابتولو لپاره بېل دلیل ته اړتیا نه لرو ،پردې سربېره، چې مخکې موو ویل د نړۍ خالق باید د ټولو کمالونو خاوند او له نیمګړتیا وو او عیبونو پاک وي

اوداوربدلواوليدلوصفت په هغه معنا ،چې وموويل په خپله يوډول کمال دی اوددې کمال نه لرل نقص اونيمګړتياده.

# شپږم لوست

## خدای تعالی يودی اوشريک نة لري

دخدای تعالی يووالی له بېلابېلولارو ثابتولی شو ؛خوپه دې لوست کې يوائې دوه دليلونه وايو:

لومړی دليل: دکائناتوپيوستون اوهمغږي پخپله دخدای تعالی دشتون پريووالي غوره دليل دی ،فرض کړئ ستاسوپه لاس کې يوکتاب دی،چې **۵۰۰** مخه لري اولوستلی مونه دی اوخبرنه يې ،چې داټول کتاب يوتن ليکلی اويايې ځينې برخې يوتن اوځينې يې بل ليکلي وي تا سوټول کتاب لولئ که وموليدل ،چې دکتاب مطالب،منځپانګه،دليکنې استدلال ، املاء اودجملو جوړونې طريقه يې يوشان ده اوهمغږي لري ؛نوپوهېږئ،چې داټول کتاب يوليکوال ليکلی ؛ځکه که دا کتاب دوويازياتوليکوالوليکلی وو ؛نواورومرو يوډول ناهمغږي به په کې وي اودا ناهمغږي که څومره لږه، دقيقه اومعمولي هم وي،چې عام اومعمولي وګړي پرې پوه نه شي ؛خوبيا هم ماهران اوليکوالان پوهېږي،چې کتاب ديوه تن ليکنه نه ده اوڅوکسانو ليکلی دی.

دې سريزې ته په پام سره اوس دادی، دادنيا ،طبيعت او هستي مطالعه کوو ؛ځکه چې پوهان وائي)) طبيعت دخدای تعالی کتاب دی ((.

له لوستلو وروسته پرې دټولو علومولـه کارپوهانو او ماهرانو سره خبرې کوو ،چې وگورو آيا دخلقت ددې سترکتاب ټول مخونه له يوبل سره همغږي دي او که نه ؟

که دطبيعت ټولې چارې او ټول مخونه همغږي او منظم وي ؛نو داپه خپله درب العلمين او زموږ دپالونکې په يو والي لوی دليل دی.

له نېکه مرغه موږ چې دطبيعي علومو دهرې څانگې له کارپوهانو پوښتنه کوو ؛نو ټول موږته په گردې نړۍ او کائناتو کې يونظم او پيوستون راپه گوته کوي اووايي ،چې داټوله دنيا په يوه نقشه جوړه شوې او ددې اصول او قوانين دومره عام او هراړخيزدي ،چې ديوې وړې شان ذرې په ازميښت سره پرنړۍ باندې پريوواکمن قانون پوهېدای شو او ديووړوکې څيزدازموينې له مخې ديولوی قانون پايله اخېستی شو.

ددنياټول پوهان ؛ ژوند پوهان، فزيک پوهان،اتوم پوهان، اونجوميان ددې پيوستون گواهي ورکوي.

آيا تردې لويه همغږي بله کېدای شي ،چې دلمريز نظام او دکائناتو نورې لوی منظومې هماغه قانون لري ،چې يووړوکی شان اتوم ئې لري.

موږ ټولو ته پته ده ،چې لوی لوی سيارې په خپل مدارکې د))جاذبې ((،اوله مرکزه دتېښتې د قانون له مخې څرخېږي ، اټوم ،چې دومره وړوکی دی ،چې په مليونونوئې په يوميلي مترځای کې ځائيږي هم دغه دوه متضادې قواوې لري) ؛ يعنې جاذبه اوله مرکزه دتېښتې قوه ( اودهمدغودووځواکونوپه رڼا کې الکټرونونه دجاذبې په مدار کې له پروټونونو راتاوېږي.

که دبوټو ،ژويو ،انسانانو اوځناوروژوندته وگورو ،هلته هم همدا همغږي شته په ژويو اوبوټو کې دنسل دپيدا ايښت عام قانون يوبل ته دومره نږدې اوورته دی ،چې ځينې څېړونکی وائي ،چې داټول ډولونه په حقيقت کې له يوډول راپيدا شوي دي.

که تاسې دیو کتاب بېلا بېلې پاڼې ولولئ او بنه ورته ځیر شئ؛ نوآیا د هغه له همغږۍ، یوشان والي، استدلال، اسلوب او جملو جوړونې پوهېدای شئ، چې داد یو لیکوال کتاب دی او که د ېرو؟

طبیعت هم دیو کتاب په شان دی، چې بې شمېره پاڼې او مخونه لري هرمخ ؛بلکې هره کرښه ئې په زرګونو څېړونکېو څېړلې اورا سپړلې اولاهم پرې لګیادي، ټول پوهان یوه خوله دي، چې دا کتاب یولړ اویوشان عام قوانین لري مثلا په هرځای کې دعلیت قانون موجود او واکمن دی، دجاذبې اوثقل قانون په ټولې مادي نړۍ کې شته، ټول اټومونه هسته لري اودرڼا او نورقوانین هم په هرځای کې یوشان دي.

آیا دخلقت او نړۍ په کتاب کې دادومره همغږي اویوشان والی ددې ګواه نه دی ،چې ددې پیدا کوونکی هم یودی ؟

آیا که نړۍ او طبیعت دوه خدایان اودوه پیدا کوونکي لرل ؛نو دهغوی دحکومت طرز، ډول ډول ارادو، دهغو دکارونوتدبیراو طریقې به بېلې بېلې نه وای ؟

## دویم دلیل

خدای تعالی، چې پېغمبران دانسانانو دلارښوونې لپاره رااستولي اوپه معجزواوپربمانه دلیلونوئې خپله پېغمبري ثابته کړې دغوټولو پېغمبرانو خلک دیو خدای منلوته رابللي دي، څرګنده ده ،چې که دنړۍ خدایان له یوزیات وو ؛نوټولو پېغمبرانوبه خلک یو خدای ته نه رابلل ؛بلکې هر پېغمبربه خلک بېلا بېلوخدایانونه رابلل اودهغه خدای تبلیغ به ئې کاوه ،چې رالېږلی یې دی اوکه څوک دانیوکه وکړي، چې کېدای شي ځینې خدایان داسې هم وي، چې دانسانانو لپاره ئې کوم پېغمبرنه وي رااستولی؛نودا یوه بې بنسټه خبره ده ؛ځکه څنګه کېدای شي، چې یوخدای دخپل غوره مخلوق )انسان(په هکله دومره بې پرواوي اودهغوی د نېکمرغۍ او لارښوونې لپاره یو پېغمبر هم راونه لیږي !

یو دیني مشر همدې حقیقت ته په اشارې سره خپل زوی ته وائي: )) ګرانه زویه !یوه شه چې که له یوه خدای پرته نور خدایان وای ؛نوپېغمبران به یې هم رالیږلي وو اوداچې موږ ګورو ،ټول پېغمبران خلک دیو خدای منلوته رابولي ،دا پخپله ددې خبرې لوی دلیل دی چې له یوه خدای پرته نورخدایان نشته اوکه خدای تعالی

شریک درلود ؛نو دهغه شریک به پرځمکه اوحکومت دخدایي قد رت نښې هم ښکاره کړې وای اوداچې دبل خدای هیڅ نښه نشته له دې یقین پیدا کوو چې خدای تعالی شریک اوساری نه لري. ( (

# اووم لوست

## دخدای تعالی سلبي صفتونه

سلبي صفتونه هغه صفتونه دي چې که په چا کې وي؛ نوهغه به نیمګړی وي اوبل ته به اړوي اوخدای تعالی له هغه صفته پاک دی ،چې ذات یې نیمګړی کړي یا یې نورو ته اړکړي ،دپوهېدو لپاره ځینې صفتونه یې دادي :

)۱( خدای تعالی جسم نه دی.

ټولو ته معلومه ده چې هر جسم اوبدن یوځای ته ضرورت لري ؛نوکه خدای تعالی جسم وي؛نویوځای ته به ضرورت لري اومخکې مو وویل چې خدای تعالی بې نیازه دی اوهیڅ ځیزته ضرورت نه لري؛ ځکه که څوک نوروته محتاج وي ؛نودنورو اړتیاوې نۀ شي پوره کولای؛ نومعلومه شوه چې خدای تعالی جسم نه دی؛ ځکه چې جسم یوځای ته اړتیالري.

)٢( خدای پاک مرکب نه دی.

دخدای تعالی ذات مرکب نه دی ؛ځکه چې هرمرکب شیز خپلو اجزاووا و ټوټوته اړتیا لري مثلاً یوخاص درمل یایو ګاډی اوداسې نورشیزونه چې له بېلا بېلو اجزاوو اوبرخو ځنې جوړ شوي خپلو اجزاووته محتاج دي اوکه یوجزاویا یوه برخه بې نه وي؛نوبیا خپل مخصوص اغیزله لاسه ورکوي اویا خاص کارترې نه اخېستل کېږي همدغه شان که دخدای پاک ذات له ځینو اجزاووجوړ شوي وي؛نوخپلو اجزاووته به محتاج وي اوومووېل چې دخدای تعالی ذات هیڅ شیزته ضرورت نه لري او له هرڅه بې نیازه دی.

)٣( خدای تعالی په سترګو نه لیدل کېږي

دهرشیز لیدل ځانته شرایط لري اویوشرط یې دادی چې هغه به جسم وي اوپه یو ه ځای کې به وي ،که داسې نه وي؛ نوبیا په سترګو آن په دوربین اوزره بین هم نه شي لیدل کېدای اوکله چې موږ ثابته کړه ،چې خدای تعالی جسم نه دی اوځای نه لري؛نو هېڅکله په سترګو نه شي لیدل کېدای اوداهم نه شو ویلای کوم شیز، چې په سترګو نه لیدل کېږي هغه به موجود نه وي ؛ځکه داسې شیزونه شته ،چې موجوددي؛خونه لیدل کېږي لکه برقي څپې یا دبدن دردونه اوموږ دهغوی په نښو نښانوځان پوهولای شو ؛نوضروري نه ده، چې هرشیز په سترګو ولیدل شي ؛نوځکه داسې نه ده هر شیز چې په سترګو ونه لیدل شي هغه به نه وي.

)٤( خدای تعالی هیڅ شیزته هیڅ ډول ضرورت نه لري

که خدای تعالی بل ته اړوي؛ نودخدای اونورو مخلوقاتو ترمنځ به هیڅ توپیر نه وي لکه څنګه چې نورمخلوقات له ځان پرته نوروشیزونو ته اړتیا لري اوهغوی خپل ضرورتونه پوره کوي؛ نوکه خدای تعالی هم نیازمن وي؛ نوهمداسې به وي؛یعنې یوبل خدای ته به اړ وي ،چې هغه به ئې اړتیاوې پوره کوي؛نوځکه باید وو ایو چې احتیاج دخدای تعالی له ذات سره بیخي اړخ نه لګوي او خدای خوهغه دی چې دنورو اړتیاوې پوره کړي اوڅوک چې پخپله ضرورتمن وي؛نو دنورو اړتیاوې به څنګه لرې کړای شي .

قرآن مجید ) دفاطر سورت ١٥آیت ( په دې باب وائي:

یَا أَیُّهَا النَّاسُ أَنتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ

ژباړه)) ای خلکو تاسو ،اوټول مخلوقات ،خدای تعالی ته محتاج اوسئ اويوائې هغه دی چې غني اوبالکل بې نيازه دی ((
رحمان بابادخدای تعالی په ستاينه کې وايي:

ګوره هسې کردګار دی رب زما
چې صاحب دکل اختيار دی رب زما
همګي بزرګواران چې ثوک يې وائې
ترهمهٔ بزرګوار دی رب زما
نهٔ يې هيڅ حاجت پر چاباندې موقوف دی
نهٔ دهيچا منت بار دی رب زما
له نيستۍ يې دهستۍ صورت پيدا کړ
هسې رنګ پروردګار دی رب زما
هم صانع دی دجملهٔ مصنوعاتو
هم سامع دهرګفتار دی رب زما
چې يې هيچری نهٔ مثل نهٔ مثال شته
دهغوی عطرو عطار دی رب زما
هرتعمير چې ددنيا اود عقبی دی
دهمه واړو معمار دی رب زما
خوانندهٔ دنانويسو صحيفو دی
دانندهٔ دهر اسرار دی رب زما
که ظاهر دی که باطن دی که مابين دی
له همهٔ خبردار دی رب زما
که پيدا که پوشيده دی که اوسط دی
په همهٔ وقوف دار دی رب زما
شريک نهٔ لري په خپله بادشاهي کښې
بې شريکه شهريار دی رب زما
هسې نه چې واحدي يې ده له عجزه
په واحد وجود بسيار دی رب زما

حاجت نۀ لري د هېـــــچا ويـــــارى ته
لــه هغو ســـــــره چې يــــــار دی رب زمـــا
ځۀ حاجت دی چه وبل خـــوا ته يې غـوارم
پــه خپـل کور کښې همکــــنار دی رب زمـا
هـيڅ تغيير او تبـديل نۀ لــــــــري رحمانـه
تـــل ترتلــه برقــرار دی رب زمــــــــــا



په ۱۳۴۲ل کې چې د لومړۍ ځل لپاره انسان پرسپوږمۍ پښه کېښوده؛نو دا يې له ځمکې اخيستل شوی عکس دی، چې د "الله" نوم پرې کښل شوی دی.



په وربځ د "الله" نوم کښل شوی دی.



د شاتو د مچیو پر ګبونې د "الله"نوم کښل شوی دی.




د انسان د زړه جوړښت د "الله" د کلمې په ډول دی



د پاڼې پر مخ د "الله"نوم کښل شوی دی.



مېږیان له ځالې راوتلي او خپله راټولېدنه یې د "الله" د کلمې په ډول انځور کړې ده.



پر کدو " امنوا باالله "کښل شوی دی.

# اتم لوست

## نبوت ( پېغمبري)

د اسلام دويم اصل د هغو پېغمبرانو پر نبوت او پېغمبرۍ عقيده ده چې خداى تعالى د انسانانو د لارښوونې لپاره رالېږلي دي او د ا پېغمبران لکه څنګه چې په کتابونو کې راغلي يو لک او څلورويشت زره زيات او کم دي.

خوشال بابا وايي:

يو لک څلوويشت زيات او کم پېغمبران دي.
کل واړه مدام دي ثناخوان د محمد

وروستی پېغمبر چې نبوت پرې پای ته رسېدلی او وروسته ترې بل پېغمبر نه راځي د اسلام قدرمن پېغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم دی.

خوشال بابا وايي:

يو لک څلوويشت زيات او کم پېغمبران دي.
کل واړه مدام دي ثناخوان د محمد
ترلک زيات پېغمبران دي
څوک نبي څوک مرسلان دي
همه واړه نېک کردار دي
امينان دي وفادار دي
عالمان دي راست ګويان دي
دوګړي نېک خواهان دي
نه يې نفس نه يې هواوه

هـــره چـــــاريې پـــه رښــــــتياوه
يـــا بـــه وحـــې يـــا الـــــــهام و
چـــې يـــې چاوتـــه كـــــــلام و
زيـــات وكـــم ويـــل يـــې نـــه كـــړه
چـــې يـــې كـــړه واړه يـــې ښـــه كـــړه
محمـــــد پـــــه كـــــې افضــــل دى
هـــــم آخــــردى هـــــــم اول دى
ددیـــن كارپـــــه ده تمـــــام شــــه
خاتمـــت دده پـــــه نـــــام شـــــه

## دپيغمبرانو دبعثت او رااستولوضرورت

داڅرګنده ده چې حكيم خداى داپراخه دنيا بې مقصد ه نه ده پيدا كړې اود اهم معلومه ده چې دپيدا ښت دموخې ګټه خداى تعالى ته نه رسېږي؛ځكه چې په تېرولوستوكې مووويل.چې خداى تعالى څه كمى اونيمګړ تيا نه لري چې ددنيا په پيدا كولو يې پوره كړي؛نودېته په يام سره ددنيا دپيدا كولو مقصد بايد پخپله دمخلوق اوانسانانو لپاره وي اودنړى دخلقت يوا ځېنى مقصد چې موږ پرې پوهېداى شود موجوداتو تكامل اوبشپړتيا په تېره بيا دانسان هراړخيزه بشپړتيا ده.

اوس داپوښتنه راپيداكېږي چې انسان څنګه تكامل ته رسېداى شي ؟ څرګنده ده ،چې دانسانانوتكامل اوپرمختګ يوا ځې دآسماني لارښوونكيو ، روزونكيو اواستادانوله لارې ممكن دى چې داكارنورڅوک نه شي كولى ؛ ځكه چې غيرآسماني مشران اولارښوونكي حقيقتونه پوره نه شي درک كولاى؛ نودانسان لارښوونه هم سمه نه شي كولى اوددې امله چې له خطااوګناه پاک نه دي ؛بلكې په كې ډوب هم دي؛ نو دلارښوونې دمقام جوګه نه دي ؛خوالهي استازي اومشران)) دغيبوله علم ((سره د را بطې اوله هر ډول غلطۍ څخه دپاكوالي په وجه انسان ته سمه لارښوولاى اوپرانستلى شي بې له دې چې په مشرۍ اولارښوونه كې تېروځي .

له دې سرېزې پوهېږو چې بايد دانسان دروزنې اولارښوونې برنامه دنړۍ دخالق لخوا)چې دانسان په ټولو غوښتنو خبردی اوپوهېږي چې څه دانسان په ګټه دي اوڅه يې په تاوان (تنظيم اوبرابره شي او دابرنامه دهغو انسانانو په وسيله خلکوته وړاندې شي چې پېغمبري او استازيتوب ورسره ښا ئېږي اودغيبو له نړۍ اوخدای تعالی سره اړيکې لري .

## انسان ټولنيز موجود دی

ټول په دې باور دي چې انسان ټولنيز موجوددی ؛يعنې له ټولنې بېل ژوند نه شي کولی ؛بلکې مجبور دی چې له نورو انسانانو سره ګډ ژوند وکړي ؛چې له دې ګډ ژونده ټولنه جوړېږي.

بې له شکه په ټولنيزژوندکې يولړ اختلافونه ، تضادونه اوستونزې هم پيدا کېږي او که سم قانون نه وي، چې انساني ټولنه اومعاشره سمه وچلوي؛ نوټولنه نېکمرغۍ او تکامل ته نه شي رسېدلی، له دې امله دسم اوعادلانه قانون شتون ضروري دی ، چې دانسان اوټولنې حق ورکړای شي اووګړنيزاوټولنيز حقوق خوندي کړي اوس بايد وګورو ، چې څوک بايد داقانون جوړکړي اوترټولوښه قانون جوړونکی څوک دی ؟او شرطونه يې څه دي؟ دقانون جوړوونکی لومړی شرط دادی چاته ، چې قانون جوړوي؛نوبايد دهغوی له روحي اوبدني خصوصياتو ،احساساتو ،غرايزواونوروځانګړتياووڅخه خبروي او داهراړخيزه پوهه له خدای تعالی پرته بل څوک نه شي لرلای ؛ځکه چې هغه خالق دی اويوازې خالق متعال دانسانانوپه بهرنيو اودننيوخصوصياتو اودانسانانوله روحي ، بدني اونورو ځانګړتيا وواوحالاتو خبردی،يوازې خدای تعالی دی ، چې له ډول ،ډول پېښو ،اوبدلونونو ، چې دانسان په ژوندکې راځي او ورسره مخامخېږي خبردی له دې کبله يوازې همغه ذات دی ، چې د انسانانو لپاره قانون جوړولای شي،داسې قانون ، چې په ټول ژوندکې دهغه په ګټه وي او انسان له تباهۍ اونابودۍ نه وساتي . خدای تعالی داقوانين ديوشمېرغوره اوله خطااوګناه نه دپاکووګړيو په لاس خلکو ته رالېږلي، چې انسان ددغو قوانينو دکارولو اوپرهغودعمل له لارې نه تکامل اوبشپړتياته ورسېږي؛ يوه بله ونډه، چې دخدای تعالی پېغمبران ئې دانسانانوپه لارښوونه کې لري

داده، چې هغوی پخپله د خدای تعالی د قوانينو لومړني عملي کوونکي دي ؛يعنې د قانون پر راوړلو سربېره داسې استادان او روزونکی هم دي، چې انسانانو ته پر دغو قوانينو عمل ورزده کوي او پخپله په دغه قانون د عمل ښه مثالونه او بېلگې دي، چې نور انسانان د هغوی په لاروی او د هغوی پر پل په پل کېښنو د لوسره آسماني قوانين د خپل ژوند کړنلاره وگرځوي او عملي يې کړي.

له دې امله خدای منونکې ټولنه په دې عقيده او باورده ،چې خدای تعالی په هره زمانه کې د انساني ټولنو او معاشرې د هدايت لپاره يو يا څو پېغمبران رالېږلي، چې په آسماني ښوونو سره انسانانو ته د نېکمرغۍ لار وښيي.

چاله يوه ديني مشره پوښتنه وکړه ،چې:

)) د پېغمبرانو د بعثت او رالېږلو ضرورت سبب څه دی ؟((

مشر ورته په ځواب کې وويل:

))دا چې په ټينگو دليلونو ثابته شوه ،چې موږ يو حکيم پيدا کوونکی او پالونکی لرو ،چې موږ ئې له نشته شته کړی يو او دا هم ثابته شوه ،چې خدای تعالی جسم او ماده نه ده او تر ټولو مخلوقاتو لوړ او ستر دی او مخلوق يې ليدلای نه شي، چې د خپلو کارونو د سم والي ،ناسموالي او بدوالي په باب ترې پوښتنه وکړي؛نو په دې بڼه کې لازمه ده ،چې يو لړ استازي او رسولان راوليږي، چې خلکو ته د خير، اصلاح او نېکمرغۍ لار وروښيي او څه، چې د خلکو په زيان دي ورپه گوته کړي او په ټولو زمانو او پړاوونو کې بايد په انسانانو کې يو لړ لارښوونکي وي، چې ځمکه د خدای تعالی له حجته خالي نه شي ((

# نهم لوست

## پېغمبران معصوم دي

په دې خوپوه شو، چې د پېغمبرانو د راتلويو مقصد د خلکو لارښوونه ده؛ خو په دې کې هم شک نشته، چې که يو لارښود پخپله په ګناه ککړ وي؛ نو خلک پاکۍ او پاکلمنۍ ته نه شي رابللی. له دې امله ضروري ده، چې الهي پېغمبران له هر ډول ګناه، تېروتنو او ناوړه کارونو پاک وي، چې خلک هم د هغوی په لاروۍ د نېکمرغۍ لار و مومي.

په بله ژبه که څوک نور خلک رښتيا ويلو او امانت ساتلو ته رابولي؛ خو په خپله دروغجن وي يا کله کله دروغ وائي او په امانت کې خيانت کوي؛ نو خبره يې پر خلکو اغېزنه کوي همدارازکه پېغمبران له خطا او ګناه پاک نه وي او خلک دا احتمال ورکوي، چې کېدای شي دوی په خپلې وينا د الهي احکامو په بيانولو کې تېروځي؛ نو د هغوی خبره په پوره ډاډ سره نه مني او په پايله کې د هغوی سمه لاروي نه کېږي او د راتلو مقصد يې نه پوره کېږي. هو خدای تعالی د اسې انسانان، چې له شرک او ګناه پاک نه وي د خپلې پېغمبرۍ او استازيتوب لپاره نه غوره کوي؛ بلکه هغوی د دې ستر مقام لپاره ټاکي، چې له هر ډول ککړتيا پاک وي او په راتلونکې کې هم له ګناه او خطا بچ او خوندي وي.

### پېغمبران بايد د معجزې خاوندان وي

څوک چې روغ فطرت لري؛ نو ادعا بې دليله نه مني او که چا يوه ادعا بې دليله و منله عقل او پوهه يې نېمګړې ده؛ له دې کبله لازمه ده، چې ټول الهي پېغمبران د خپلې پېغمبرۍ د ادعاد ثابتولو لپاره يو دليل او ګواه ولري او دا خبره ثابته کړي، چې دوی د خدای تعالی استازي دي.

يو دليل، چې د غيبو له نړۍ او پاک رب سره د پېغمبرانو اړيکې ثابتوي معجزه ده. معجزه هغه کارته وائي، چې کول يې په هغو شرايطو او حالاتو کې، چې

پېغمبريې کوي دنورودوس کارنه وي ؛يعنې يوکاريواځې پېغمبران وکړای شي او نوريې نه لکه دمړيوژوندي کول اويادظاهري وسايلوله کارولوپرته دلاعلاجه ناروغيوعلاجول.

په دې باب يواسلامي مشروائي: ))هرپېغمبر بايدله ځان سره يوشاهد ولري ،چې پررښتينولی يې دليل وي ((

او معجزه پخپله يوه څرګنده شاهده ده ،چې خلک پرې دپېغمبرۍ دادعا په رښتيا اودروغوپوهېدای شي .

خوشال بابا وايي:

محمــــــد چـــــې پېغمبـــــردی
ســـتاپه کـــوم دليـــــل بـــاوردی
دليــــــل داچـــــې معـــــجزات
لـــــري دی بـــــې نهايـــــــا ت
معجـــــــزه يـــــې قــــرآن دی
چــــې راغلــــی پـــه ښـــه شـــان دی
عـــــرب ډېرفصـــــيح زبـــــان وو
دانشـــــمندد خپـــــــــل آوان وو
اتفـــــاق يـــــې پــــه داکـــــارو
لـــــه قرآنـــه يـــې انــــــکارو
مـــــــدعي دمصـــــــــطفی وو
پـــه بطـــلان يـــې پـــه غوغـــــاوو
څـــه کـــه ديـــن دده باطـــل کـــړو
ســــحرګريايې چـــــې بــــل کــــړو
جدلونـــه يـــې برپـــــای کـــــړه
کوششـــونه يـــــې پـــه رای کـــړه
يوآيـــــت لـــــــکه قـــــرآن و
چاونـــه وې هســـــــې ګـــــران و
پـــه داکـــارکې ســـرګردان شـــول
اخرخـــاورې دقـــــرآن شـــــول
همګـــــــي واړه عاجزشـــــــول

درسول په دین فایز شول
قرآن درست واړه متین دی
معجزه تربې وسین دی
دعیسی معجزد داوه
دمړده ووپه احیا وه
دموسی عصابه مارشوه
یابه ونه په اثمارشوه
معجزه دمحمد شته
یوقرآن دې کې سرمد شته
که ترشرق ترغربه واړه
فصیحان سازه کا غاړه
یوآیت لکه قرآن دی
رابه نه وړي هسې ګران دی
په اعجازیې کړه دوه نیمه
هومره اوه ځمکې جسیمه
بل ګویاورته کباب شه
بل یې لاس چشمه دآب شه
بل سوسمارورنه خبر
په ښکاره وکړه نادر
په عجازیې وبله پور
اوبه ښې شوې تلخې شور
په فراق دده نالانه
دمسجد ستنه شوه جانه
په هوا ووا ووه پاسه
غردده دسردپاسه
چې یې وبلله ونه
ورته راغله لویه پلنه
ده به وښییل خیزونه
چې به ورک شول په ملکونه

معجزې يې وې بې شماره
زه يې څوکښم درته ياره
که يې کښم کتاب اوږدېږي
دانايان به خود پوهېږي

# لسم لوست

## وروستی پېغمبر

وموویل ،چې وروستی پېغمبر د اسلام ګران استازی حضرت محمد بن عبد الله صلی الله علیه وآله وسلم دی هغه مبارک په ځلوېښت کلنۍ کې پر پېغمبرۍ وګومارل شو.

رحمن بابا وایي:

نبوت په محمد باندې تمام شه
نشته پس له محمده انبیــــــا

تاریخ ګواهي ورکوي، چې آنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم په خپل ټول عمر کې حتی یوه شېبه هم د بوتانو عبادت نه دی کړی او له خدای پاک سره یې شریک نه دی ګرځولی.

آنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم په داسې وخت کې د خدای تعالی لخوا پر پېغمبرۍ او د خلکو په لارښوونه مبعوث او وګومارل شو ،چې انساني نړۍ پر ګډوډۍ ،جنګ ، وروروژنه ، خرافاتو ،افسانو او چټیاتو اخته وه.

هغه مبارک خپله پېغمبري اعلان کړه او د ثابتولو لپاره ئې زیات شمېر معجزې او شواهد راوړل. د پېغمبر اکرم په معجزو کې یوه داسې ژوندۍ، ښکاره ، او مضبوطه معجزه هم وه ،چې اوس یې هم پر پېغمبرۍ ټینګه شاهدي ورکوي داژوندی سند او تلپاتې معجزه قرآن شریف دی ،چې اوس هم د ځلانده لمر په شان ځلېږي او د خپلو منوونکیو زړۀ روښانه کوي.

قرآن شریف )د تکویر سورت ۲۲- ۲۷ آیتونه ( په زغرده وائي، چې: زما راوړونکی یو عادي انسان نه دی او زه د هغه فکر نه یم جوړ کړی ؛بلکې زما راوړونکی یو داسې ستر شخصیت دی ،چې له غیبو او د دې نړۍ له خالق سره اړیکې لري او خدای تعالی هغه د انسانانو د لاښوونې لپاره رااستولی دی

وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ او ستاسې ملګری [= پېغمبر] لیونی نه دی.

وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ او په يقين چې هغه)د وحې امين = جبرئيل ( د روښانه څنډو په لمن کې ليدلی دی.

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ او هغه د پټو )خبرو په ويلو کې ( بخيل نه دی.

وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ او دا ) قرآن ( د شړل شوي شيطان خبره نه ده.

فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ نو چيرته ځئ ؟ !

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ دا) قرآن ( نړيوالو ته له پند پرته بل څه نه دی؛

د اسلام پېغمبرصلی الله عليه وآله وسلم به ويل:

))ای خلکو ! زه د خدای پاک لخوا پر پېغمبری ګومارل شوی یم او دا قرآن زما پر پېغمبری ژوندی او څرګند ګواه دی که زما په دې خبره کې شک لرئ تاسو ټول راغونډ شئ او دیوا وبل په لاسنیوی د قرآن د سورتونو په شان یو سورت جوړ کړئ که تاسو بریالي شوئ او له ماسره موسیالي وکړه ؛نو بیا زما پېغمبري مه منئ ؛خو که بریالي نه شوئ ، چې هېڅکله به نه شئ ؛نو پوه شئ، چې زه د خدای او مخلوق ترمنځ یوه واسطه او رابطه یم او د هغه پېغمبریم ، چې تاسو د نېکمرغۍ او کمال لوري ته بوځم. ( (

په هغه زمانه کې ټولو ليکوالو او شاعرانو په تېره بيا هغو کسانو ، چې په فصاحت او بلاغت کې بې ساري او بې مثاله استادان وو ، نه يوازې دا ، چې د قرآن مجيد د سورتونو په شان يې يو سورت جوړ نه کړ ؛بلکې ټولو په خپلې بې وسۍ او عاجزۍ اعتراف وکړ او له هغه وخته تر اوسه سره له دې ، چې د اسلام دښمنانو د اسلام پر خلاف له ټولو وسايلو کار اخېستی ؛ خو له قرآن سره د مقابلې وس نه لري، چې په شان يې يو آيت جوړ کړي.



د لا اله الا الله محمد رسول الله کلمه د انسان پر سږو کښل شوی ده.



د شاتو د مچيو پر ګبوڼي د حضرت محمد)ص ( نوم کښل شوی دی.




پر يو ډول نباتي تخم د "الله" تعالى او حضرت "محمد" ) ص ( نومونه کښل شوي دي.



پر څاروي د حضرت "محمد)ص ( "نوم کښل شوى دى.



په ځنګل کې په ونو د "لااله الا الله محمد رسول الله"کلمه کښل شوی ده.

# قرآن تلپاتې معجزه

قرآن شریف نه یواځې دفصاحت ، بلاغت ، دژبې خوږوالي، جمله بندۍ،جوړښت،روحي جذابیت اوزړهٔ راښکون له نظره معجزه ده ؛بلکې له نورو ډېرو اړخونوهم دمعجزې حیثیت لري،چې دلته ورته لنډه اشاره کوو :

)۱( ټول تاریخ پوهان یوه خوله دي،چې د اسلام قدرمن پیغمبر)) امي ((ۋ)یعنې له چا ئې زده کړه نه وه کړې ( او ترڅلویښت کلنۍ پورې ،چې پر پیغمبرۍ مبعوث اووګومارل شو ،له هیڅ استاد یې لوست نه وویلی، د اسلام پیغمبرصلی الله علیه وآله وسلم به خلکو ته په قرآن شریف کې د تېرو ډېرو پیغمبرانو قصې او پېښې لوستې البته دتېرو دقصولوستل پخپله معجزه نه ده ؛خو دا قصې او پېښې چې [ دتېرې او نوې زمانې ]د مسیحیانو او یهودیانو په کتابونو کې راغلي؛نو که موږ د قرآن دا برخه دیهودیانو او عېسویانو د پخوانیو او سنیو وختونو له لیکنو سره پرتله کړو له دې لارې پو هېدای شو ،چې قرآن معجزه او آسماني کتاب دی ؛ځکه که دیهودیانو او عیسویانو د پخوانیو او سینو وختونو [ددوی اوسني کتابونه هغه کتابونه نهٔ دي ،چې حضرت موسی او حضرت عیسی علیهما السلام د خدای له لورې راوړي ؛بلکې هغه اصلي کتابونه له منځه تللي دي] کتابونو ته مراجعه کوو ؛نو ګورو چې د دغو کتابونو لیکوالو د ډېرې ناپوهۍ په وجه د خدای د پیغمبرانو قصې [ چې د تاریخ ډېرلوړاو تکړه شخصیتونه وو او قصې یې هم له پنده ډکې دي ] د افسانو ، خرافاتو او چټیاتو په ډول بیان کړي او په دغو قصو او پیښو کې

ئي حقايق دومره ګډوډ کړي، چې الهي پیغمبران تر عامو انسانانو هم ټیټ انځور شوي دي؛ خو چې قرآن مجید لولو ؛نو د دغو پاکو پیغمبرانو قصې او د ژوند پېښې داسې بیان شوي، چې ټولو ته د پند او عبرت وړ دي.

او په همدې دلیل هېڅ څوک نه شي ویلای، چې د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم ،قرآن مجید د یهودیانو او مسیحیانو له کتابونو جوړ کړی او د قرآن په شکل یې خلکو ته راوړاندې کړی دی.

قرآن مجید چې د پیغمبرانو قصې بیانوي؛ نو یو شمېر حقایقو ،اخلاقي خبرو او سبقونو ته هم اشاره کوي او د هغوی قصې او د ژوند پېښې یې په ربښتونې توګه بیان کړي، چې وهم ورته لار نه شي موندلای ،

که د اقرآن وحې نه وي او له بل څه جوړ شوی وي؛ نو د پیغمبرانو د قصو په بیانولو کې به یې هماغه خرافات او ګډې وډې خبرې را اخیستې وای لکه ،چې د تورات او انجیل لیکوونکیو او د عربو قصه ویوونکیو را اخیستي او د پیغمبرانو په قصو کې یې دروغ او غلطې خبرې ننه ایستي دي. تاسو د حضرت آدم ، بي بي هوا ، حضرت ابراهیم ، حضرت یعقوب او حضرت عیسی )علیهم السلام ( قصې، چې په تورات او انجیل کې راغلي د قرآن شریف له قصو سره پرتله کړئ بیا به په حقیقت پوه شئ او د الندې مقایسه ثابتوي، چې د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د وحې له لارې حقایقو ته رسېدلی دی بایدوو ایو ،چې د یهودو او مسیحیانو په پخوانیو او اوسنیو کتابونو کې د دې پیغمبرانو قصې دومره سپکې ،رسوا او شرموونکی دي ،چې قلم یې له لیکلو شرمېږي؛خو همدا قصې او د ژوند پېښې په قرآن شریف کې په ډېره غوره طریقه بیان شوي، چې په کې علمي او اخلاقي حقایق نغښتي دي.

)۲ ( د قرآن شریف د اعجاز د ثابتولو بله لار په هغه کې راغلي قوانین دي، چې دا قوانین دومره پاخه ، سم او تللي دي ،چې د وخت تېرېدلو او د انساني ټولنو او معاشرې بدلېدو ورته هېڅ زیان نه دی رسولی. قرآن شریف د انساني ټولنې لپاره ځانګړی اقتصادي نظام او قانون راوړی، چې په ټولو زمانو کې د انسانانو د غوښتنو ځواب ویلای شي که د قرآن په یوا ځې یو اقتصادي اصل )) د سود پر حراموالي (( عمل وشي ؛نو د ټولنې طبقاتي اختلافونه او ګډوډی به لرې شي.

یونالوستی او انپړ، خلکو ته حتی نیم غوندې صحیح قانون هم نه شي راوړی داخولاڅه چې یو داسې سم اقتصادي نظام راوړاندې کړي، چې د ډول ، ډول

اقتصادي نظامونو په پيدا کېدو سره نه يوائې هغه ته کوم تاوان نه رسيږي؛ بلکې دوخت ماهرانو او پوهانو د دغه نظام په سموالي ګواهي ورکړي او دغه قانون خپلو منو ونکيو ته ) که عملي يې کړي ( ، عظمت او عزت وربخښي.

قرآن مجيد په خلکو کې شتمني عادلانه ويشي ، چې که عملي شي ؛ نو په ټولنه کې به بېوزلي او لوږه پای ته ورسېږي.

قرآن شريف د معاشرې او ټولنې د هوساينې او آسانتيا لپاره ډېر ټينګ او ښه جزائي قوانين لري ، چې د انسان هوساينه تضمينوي .

د اسلام پوځي نظام او جنګي برنامه دومره پر مختللې ده ، چې آن د دښمن د ناموس او حقوقو خيال په کې ساتل شوی دی.

غرض دا چې اسلامي حقوق دومره پراخ او هر اړخيز دي ، چې د انسان له پيدا ايښته تر مړينې پورې ورته قانون لري او د هر ځيز لپاره که څومره وړوکې هم وي يو حکم او سپارښتنه لري.

آيا يونالوستی انسان هغه هم په داسې حالاتو کې ، چې وحشت ، ناپوهي ، بې علمي او وهمياتو ګرده ټولنه نيولې وي پرته له دې ، چې د غيبوله نړۍ سره اړيکې ولري انسانيت ته داسې ځلاند ، بشپړ او تلپاتې قوانين راوړای شي ؟ !

د اسلام ستريا او د قرآن اعجاز يوائې پر همدې خبرونه رانه ډېري ؛ بلکې نور داسې ډېر ګواهان او دليلونه شته ، چې موږ پوهوي ، چې قرآن مجيد يو الهي استاد او لارښود دی او برنامه يې اسماني ده .

چا له يوه اسلامي عالم نه پوښتنه وکړه: داسې ولې ده ، قرآن چې څومره اوږېدل کېږي ؛ نو هومره ورسره غوږونه بلد ېږي ، او څومره ، چې لوستل او نوروته ښوول کېږي بيا هم نه زړېږي ؟ بلکې د دې په اپوټه او پر عکس ورځ په ورځ يې تازه توب او نويتوب زياتېږي ؟

عالم ورته وويل: )) دا ځکه ، چې قرآن شريف د يوې خاصې زمانې او مهال لپاره نه دی نازل شوی ؛ نو ځکه په ټولو زمانو او وختونو کې نوی او تازه دی . ( (

هو ، که موږ قرآن د خپل ژوند برنامه وګرځوو ؛ نو شک نشته ، چې نبکمرغه به شو او لکه څنګه ، چې د اسلام په لومړيو وختونو کې مسلمانانو له قرآنه د لاروۍ په برکت په لنډه موده کې د ستر عزت او ترقۍ خاوندان شول ؛ نو موږ به هم د تير په شان خپل برم بيا راژوندی کړو ؛ خو مسلمانانو قرآن هېر کړی او له همدې امله نن پر دې حال اخته دي.

# یوولسم لوست

## معاد (قیامت)

ددین دریيم اصل پرمعاد ؛یعنې قیامت عقیده ده ،دخپلو کړنو جزا او سزا ته درسیدو لپاره یو بل ژوند او بیا را پاځېدو ته معاد وایي.

پرقیامت ګروهه دانسانانو یوه پخوانۍ عقیده ده حتی په لرغونو قومونو کې ددې عقیدې نښې نښانې شته. دنړۍ په مشهورو مذهبونو کې ابدي او تلپاتې ژوند ته ستنېدل بنیادي اصل ګڼل کېږي.

او هغه دین ته الهي دین نه شو ویلای، چې پر قیامت عقیده نه لري. دنړۍ په ټولو قومونو او او لسونو کې ددې عقیدې سابقې ته په پام سره ویلای شو، چې پر قیامت باور لرل یوه فطري خبره ده، کېدای شي، چې څوک په ځینو خاصو حالاتو کې دا احساس وکړي، چې په مړینې یې دژوند لړۍ پای ته نه رسېږي او مرګ یې دژوند د زنځیرو روستۍ کړۍ نه ده او هغه دڅوور څودنیاوي او ستونز من ژوند لپاره نه دی پیدا شوی ؛ بلکې دا توره شپه یو سبالري او مرګ به دابدي ژوند پر لوریوه کړکۍ وي
.

پرمعاد او قیامت عقیده یوه فطري چاره ده او موږ دمسئلې دوضاحت لپاره دلته یو اځې دوه دلیلونه راوړو.

### له قیامت سره دخدای تعالی دعدل او حکمت اړیکه

دادنیا، چې انسان په کې ژوند کوي داسې نړۍ ده ،چې بنیادونه یې پر عدل او انصاف ولاړ دي او خالق یې هم عادل او منصف دی او خپلو بندګانو ته ئې حکم کړی ،چې خپل ژوند دعدل او انصاف پربنیاد تېر کړئ او له ظلم او زیاتي ډډه وکړئ او دانسانانو دلارښوونې لپاره یې پیغمبران رالېږلي، چې هغوی ته دخیر او شر لار وښیي.

هود الهي حکمونو اودرسولانو دامرونو پروړاندې خلک دوه ډلې کېږي:

١) یوه ډله داسې ده، چې هغوی دزړه له اخلاصه خبره منې او ددین له نېغې لارې نه کږېږي او ځانونه له ککړتیاوو ، ګناهونو ،ناپاکیو او سپکو اخلاقو ساتي او یالږ ترلږه په دې فکر کې وي، چې ځانونه پاک کړي.

)۲ ( بلــه ډلــه داســې ده،چــې پــه شــهوتونو ، ګناهونو او دخــدای تعــالی پربندګانو باندې په ظلم کولو کې ډوب دي او دهغوی کړنې داسې دي،چې ته به وائي خدای تعالی دوی ته بيخي برنامه او دژوند طريقه نه ده رالېږلې او نيغه لار يې ورته نه ده ښوولی ددوی دژوند مقصد يوائې خوند اخېستل ، شهوتونه، ګناهونه ، چل ول او پرنورو ظلم او زياتی کول دي او دغې موخې ته درسيدو لپاره له هيڅ جنايته ډډه نه کوي.

لکه په تاريخ کې لولو ،چې پلانی واکمن) دتاريخ يوه بدنامه څيره ( وائي: )) زه له دې ډېر خوند اخلم ،چې دخدای تعالی بندګان په اورکې واچوم او دهغوی چغې اوسورې اورم ؛ځکه زما پـه خيـال ربړول او پـه اور کې دخلکو چغې اوسوري ښـه موسيقي ده. ((

يو دا انسان دی او يو بل انسان به دروښيو ،چې وائي که ددنيا ټوله باچاهي راکړئ او رانه وغواړئ ،چې پر يو وړوکې ميږي ظلم وکړم او له خولې ئې دانه واخلم ؛نو دا کار به ونه کړم.

همدا شان مو رېپه خپل ژوند کې داسې وګړي پېژنو ،چې لـه رذالـت ، ناپـاکۍ او ظلمه پرته بل کارنه لري او داسې کسان هم شته ،چې خپل ژوند او هوساينه ئې دمسلمانانو او انسانانو دخدمت لپاره بښلې ده.

نو آيا دخدای تعالی انصاف او عدل دا تقاضا کوي،چې دا دوه ډوله کسان يوشان اوبرابر دي ؟

آيـا هغـه منصف او عـادل خـدای ،چـې دټولو بنـدګانو کړنې ورتـه معلومې دي او دهرچا له ظاهر او باطن څخه خبردی دغو دواړو ډلو ته په يوه سترګه ګوري ؟ !

سالم او روغ عقل وائي،چې دا دوه ډوله خلک له يوبل سره توپير لري او هر چاته بايد دخپلو کړنو بدله ورکړل شي.

هغه ډله ،چې پرخدای تعالی ايمان لري او نيکي يې کړې پکارده ،چې دنېکـۍ بدله ووينې او هغـه کسـان ،چې پـر الله تعـالی ايمـان نـه لـري، ظلمونـه او ګناهونـه يـې کړی پکارده ،چې ددې کړنو سزا ته ورسېږي.

هـو ، دخـدای تعـالی عـدل او انصـاف ددې تقاضـا کـوي،چې نيـک عملـه او ښـه کسان بايد له بدو او بدعملو کسانو سره توپيرولري.

بلخوا په دې کې هم شک نه شته، چې دا امتیازاو دنېکانو بدله په دنیاکې په پوره توګه نه ورکول کېږي؛ ځکه موږ وینو، چې ډېرېې ایمانه اوبدعمله کسان په دې دنیاکې آرام او په مزو چړچو کې ژوند کوي اوله دې دنیا خوندونه اخلي.

ددې په اپوټه او ډېر داسې ایمانوال اونېک عمله کسان وینو، چې خپل ټول عمر یې دخدای تعالی په عبادت، دخلکو او ټولنې په خدمت، لاربښوونه اوښو چاروکې تېرکړی اوخپلې ټولنېزې اوګړنیزې دندې ئې پوره کړې؛ خو بیا هم په ډېرو سختیو، ستونزو، غریبۍ، ربړولو او بندونوکې عمر تېروي او په همدې حال کې مړه هم شي؛نو دې ته په پام سره دخدای تعالی عدالت اوحکمت دا تقاضا اوغوښتنه لري، چې پکارده یوه بله دنیا وي، چې نېکان په کې دخپلو نېکو چاروښه بدله اوبدان اوکافران په کې دخپلو کړنو سزا وویني.

اودابله دنیا هماغه دقیامت اودبیا راپاڅېدو ورځ ده، چې په ټولو آسماني ادیانو او په تېره بیا په اسلام کې پرې ایمان ضروري دی او ددین یو بنیادي اصل ګڼل کېږي.

خوشال بابا وایي:

لکـه ګوروتـه چـې یـون شـته
پـس لـه مرګـه بیـا ژونـدون شـته
خـدای پـه هرچـاره قـادردی
بـل ژونـدون تـروالا زردی
چـې پـه دابانـدې څـوک شـک کـا
ځـان بـه درسـت لـه کفـرډک کـا
پـه آوازدصـورله ګـوره
پاڅـېدل دي زمـا وروره
صورشـپېلۍ داسرافـیل ده
لـوی دپونـسولکه میـل ده
فراخـي یـې زمـا لا لـه
چـې سـړی ځـي پـه زرکـاله
څلورښـکرد صوریادېـږي
هریوښـکرېې جهـان کېـږي
دعمـل نامـې بـه واشـي

په هر لوري به غوغا شي
څوک نېکبخت څوک به بدبخت وي
د بدبخت حساب به سخت وي
چې نامه په ښي لاس ورکه
نور قيامت به پرې اختر کا
چې نامه په کيڼ لاس مومي
و دوزخ لره به درومي
د ده مخ په واړه تور وي
درست وجود به يې تور سکور وي
د نېکبخت مخ به تابان وي
تر مهتاب به لا رخشان وي
راضي من به ځني خدا شي
جنتونه به يې ځای شي
تل به اوسي په جنت کې
په خوښي په راحت کې
ورسره به وي تل حورې
په هر دم ورته حضورې

# دولسم لوست

## دقيامت دثابتولو لپاره دويم دليل

خدای تعالی ،چې مونږ پرې عقيده لرو يو حکيم اوعليم خدای دی دهغه ټول کارونه دحکمت له مخې دي اوددې نړی او انسان د پيدا ايښت او انسانانو ته دعقل دورکړې او ورته داستازيو اوپېغمبرانوله راستولو يوه موخه او مقصد لري.

آيا دانسانانو دپيدا ايښت موخه داده ،چې په دنياکې ځوورځې له خپلو نفساني خواهشاتو سره سم ژوند وکړي، ځوزره کيلو ګرامه ډوډۍ وخوري، ځوزره ليټره اوبه وڅښي اوله ځوورځو خوشحاليو يابد حاليو او بدمرغيو وروسته خاورو ته لاړشي په رښتيا که دانسان دپيدا ايښت غرض داوي ؛نوپکارده،چې ووايو دهغه خلقت چټي اوفضول دی حال داچې زمونږپالونکی حکيم دی، ټول کارونه يې دحکمت له مخې دي، فضول اوچټي چارې نه کوي.

نوکه لږ فکر اوسوچ وکړودې پايلې ته رسېږو ،چې دنيا ته دانسانانو دراتللوموخه يواځې دالنډ ژونداومحدوده نړی نه ده ؛بلکې انسان ديولامحدود اوتلپاتې ژوندلپاره پيدا شوی ،چې داهماغه تر مرګ وروسته ژوند دی.قرآن شريف [دمؤمنون سورت۱۱۵آيت ]همدې دليل ته اشاره کوي اووايي:

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ

ژباړه: اوتاسو داګومان اوخيال کړی،چې تاسو موعبث اوچټي پيدا کړی يئ اومونږ ته به نۀ راګرځئ.

# معاد او بیا راپاځېدل جسماني دي

د قرآن مجید له آیتونو داسې معلومېږي، چې معاد او تر مرګ وروسته بیا ژوندي کېدل جسماني دي؛ یعنې د انسان روح بیا بدن ته راګرځي او انسان به د خپلو کړنو بدله ویني، یوه ورځ رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ته د اسلام یو مخالف [ ابئ بن خلف ] یو وروست هډوکی راوړ او په لاسونو کې یې داوړو په شان ومړه، میده ئې کړاو بیائې هوا ته پوه کړاو ویې ویل ،چې دا میده او وروست هډوکی به څنګه راټول او بیا ژوندی شي؟

خدای تعالی خپل ګران رسول صلی الله علیه وآله وسلم ته وویل ،چې دده په ځواب کې ووایه ،چې هماغه خدای ،چې په لومړي ځل ئې دا هډوکی له خاورو پیدا کړی او ورته ئې ژوند ورکړې هماغه خدای به دا وراسته هډوکي بیا راغونډ او ژوندي کړي د یس سورت ) ۷۹ ( آیت:

قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ [ابئ بن خلف ] وائي څوک به دا وراسته هډوکي را ژوندې کوي) ای زما پیغمبره هغه ته ( ووایه هماغه ،چې په لومړي ځل ئې پیدا اوژوندي کړي دي بیا به ئې هم ژوندي کړي او هغه په هر خلقت خبردی ( (

## د انسان پر ژوند د قیامت د عقیدې اغېزې

پر قیامت عقیده انسان د خپلو فرایضو او دندو د ترسره کولو لپاره هڅوي؛ ځکه داسې وګړي پوهېږي ،چې د هغه هیڅ کړۀ نه ضایع کېږي او یو عادل او ځیر خدای شته ،چې د ټولو له ظاهر او باطنه خبردی ؛نو داسې وګړي په خورامینې او هیلې خپلې دندې ترسره کوي او د ځان د سمولو او د نېکو کارونو د کولو هڅه کوي.

پر قیامت اولوی ورځې ایمان انسان ته د تلپاتې ژوند زېری ورکوي او انسان پوهېږي، چې ددې محدود ژوند لپاره نه دی پیدا شوی او په مرګ سره له منځه نه ځي؛بلکې پر داسې ژوند او پراو پښه ږدي ،چې ددې دنیاله ژونده ډېر پراخه دی او په دې هم پوهېږي، چې دا دنیا د آخرت لپاره ، سریزه

ده او دآخرت پراخ اولوی ژوند دانسان ددنیاوي کړنو پایله ده او په بله وینا هماغه څه به ربېي ،چې دلته يې کرلي وي.

قرآن مجيد په دې هکله وائي:

ژباړه: څوک ،چې ديوې ذرې هومره ښه کاروکړي ؛نوبدله به يې ووينې او که څوک ديوې ذرې هومره بد کارکړي ، بدله به يې ووينې.

رحمان بابا څه ښه وائي:

کرد ګلو کړه ،چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مهٔ کره په پښو کې به دې خار شي.

خوشال بابا وايي:

حضر حق دی وبه شینه
نېک وبد به موتلینه
اوېزانده به کا تله
عدالت به کا په خپله
جبرائیل به وزن کاندي
چې کفې دا ترازو دی
برابره په هرسو دي
چې دادرسته دنیا واړه
څوارلس ځله به وي دواړه
دهرچا چې څه کرداروي
داخيارکه داشراروي
همګي به وزن کېږي
جبرائیل به پرې خبرېږي
که نېکي زياته وي څومره
چې درېدنودانه هومره
هغه کس به جنتي شي
په حساب به فرحتي شي
چې يې تله سپکه شينه
ودوزخ لره به ځينه

*Download From; Aghalibrary.com*